AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري

۲۰۱۹/۰۳/۰۲

# مذاکرات د افغان د کشالې د فیصله کولو بهترینه لاره ده

د افغانستان د چارو مشهور امریکایي لیکوال بارنیټ روبین د مارچ پر اوله د متحده ایالاتو په معتبره سیاسي مجله
(فارن افیرز) کي لیکي کله چي په ۲۰۱۲ کي زه په خارجه وزارت کي د افغانستان او پاکستان لپاره د خاص استاز
یمشر مشاور وم، ما په استامبول کي د ځینو پخواني ایراني دیپلوماتو سره ملاقات درلود. هغوی ما ته د اعتراض پ
ه توګه وویل چي امریکا په افغانستان کي دایمي نظامي اډې غواړي. ما هغوی ته وویل چي دوی د غلط شي په اړه
اندېښمن دي. ځکه مشکل دا نه دی چي امریکا به په افغانستان کي ابدي پاته سي، خو اصلي ستونزه دا ده چي که ن
ن وي او که سبا امریکا به له افغانستانه وزي. او بیا به ایران او نور ګاونډیان د داسي یو مشکل سره مخامخ وي چ
یحلولای به یې نه سي.
د ۲۰۱۸ په ډسمبر کي، نیویارک ټایمز ریوټ ورکړ چي ټرمپ غواړي په راتلونکو میاشتو کي ۷۰۰۰ امریکایي ع
سکر راوباسي. دمګړی، امریکا او طالبان د سولي په خبرو لګیا دي، او ویل کېږي چي یوې معاملې ته ډېر سره نژ
دې سویدي. اوس په واشنګټن کي امریکایي ستراتیژستان د غلط شي په اړه اندېښمن دي. هغوی وایي چي ټرمپ د
ویتنام د جنګ او په افغانستان کي د شوروی اشتباه بیا تکراروي: مانا دا چي د امریکایي عسکر راوتل به د کابل د
حکومت دسقوط سبب سي، او داخلي جنګ به ښخ سي. په افغانستان کي د امریکا پخوانی سفیر راین کارکر د افغان
روان مذاکرات د امریکا «تسلیمي» بولي.
حقیقت دا دی چي مذاکرات تسلیمي نده، نه هم مذاکرات د امریکا د راوتلو اساسي دلیل دی، که څه هم د ټرمپ نیت
راوتل دي. خو که چیري مذاکرات په داسي محیط او ذهنیت کي وسي چي مخکي له مخکي د راوتلو فیصلهسوې و
ي، دا به د خبرو لپاره ښه نه وي. خو اساسي خطر دا دی ښایي ټرمپ پرته له دې چي د مذاکراتو نتایجو ته انتظار
وباسي، یو دم او پرته له کوم قید او شرطه له افغانستانه د عسکرو د راایستلو امر وکړي، او پر افغانحکومت باندي
مالي کومکونه بند کړي.
د ټرمپ د مذاکراتو اوسنۍ پالیسي د هغه د جنوبي اسیا د ستراتیژۍ، چي په ۲۰۱۷ کي یې اعلام کړه، هیڅ سر سره
نه خوري. هله هغه وویل له افغانستانه«په عجله راوتل به د تروریستانو لپاره خلا ایجاده کړي.» هغه زیاتهکړه،«
موږ به دا جنګ وګټو.» ټرمپ وویل،«زموږ ستراتیژي پر حالاتو باندي تکیه لري، نه پر تقیسم اوقات باندي. د ام
ریکا دوښمنان باید هیڅکله زموږ په پلان باندي پوه نه سي.» د ټرمپ دا خبري د واشنګټن د پل سوختېه دجنګ پر
نشه یانو او شوقیانو باندي خورا ښې ولګېدلې، او زړونه یې باغ باغ سول.
ټاکل سوې وه چي د ټرمپ دا ستراتیژي به پاکستان بدلوي، هغه وویل،«پاکستان هغو سازمانونو ته پناه ورکړې ده
چي هره ورځ زموږ خلګ راوژني. دا باید بدل سي.»
خو واقعیت دا دی چي د ټرمپ په خبرو کي د «کامیابۍ لپاره هیڅ پلان» نه وو، او د پاکستان سلوک هم بدل نه سو
. که څه هم د ټرمپ ستراتیژي «پر مځکني او عیني شرایطو» باندي تکیه لرله، خو د هغه ستراتیژي د شرایطو پ
هبدلولو کي ناکامه سوه. د سیګار په قول د طالبانو د کنټرول او نفوذ ساحه تر پخوا پراخه سوې ده. جنرال نیکلسن
کانګرس ته وویل چي متحده ایالات او طالبان یوه «بن بست» ته رسېدلي دي. په بل عبارت، پدې تیرو دوو کلونو
کي د ټرمپ د جنوبي اسیا ستراتیژي موجوده نظامي بن بست نه دی مات کړی، او نه هم کامیابۍ ته ور نژدې سوې
ده. د ۲۰۱۸ په اګسټ کي، د امریکا د ملي استخباراتو اټکل وایي چي طالبان تر پخوا زیات قوي سوي دي.
که څه هم ټرمپ عموما د امریکا د استخباراتو تحلیل نه مني، خو اوس همدا استخبارات د ټرمپ د راوتلو مفکوره
تایید وي. ویل کېږي چي ښاغلي پامپیو ټرمپ پدې راضي کړی وو چي له افغانستانه تر یو دم راوتلو مخکي دیمذا
کرات وازمویي. همدا وجه وه چي د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر خلیلزاد استخدام کړ. خلیلزاد ته فقط یو څو
میاشتي وخت ورکړه سوی دی چي د طالبانو سره یوې موافقې ته ورسېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د افغانستان د کشالي د فیصله کولو لپاره مصالحه تل یوازنۍ لاره وه او ده. خو د امریکا فوج ټینګار کاوه چې متحد
ه ایالات او د کابل حکومت باید یوازې «د قوت له موضع څخه» خبري وکړي. هغوی تل ویل چې د قوت موضعته
ورنژدې سوي دي، خو د هغوی د قوت موضع سرآب ته ورته ده. ځکه هر څونه چې ور نژدې کېږي په هغه اندا
زه ترې لیري کېږي. حقیقت دا دی هر څونه زیات چې امریکا د قوت موضع ته انتظار وایست، په هغه اندازه پېغی
ني موقف کمزوری سو. نو لهذا، کله چې ټرمپ بالاخره دغه اجتناب ناپذیره واقعیت ومنی، واشنګټن قطعا پدې مو
قف کې نه وو چې پر طالبانو باندې خپل نظر او دریځ تحمیل کړي.
کابل او واشنګټن هیلمن ول چې نظامي فشار به طالبان دېته اړباسي چې د کابل حکومت سره مخامخ خبرو ته کښېن
ي، خو دا کامیابي ترلاسه نه سوه. ځکه طالبان په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۴ کې د کابل له حکومت سره موافقي ته ورسېدل،
خو امریکایانو همدا موافقي سمدستي ردي کړې. نو لهذا، طالبان پدې قانع سول چې د کابل له حکومت سره خبري
کول یو عبث کار او د وخت ضایع کول دي. که څه هم طالبان د کابل له حکومت سره بالاخره خبري کول نهدي ک
املا رد کړي، خو هغوی وایي چې اول باند د امریکا سره یوې موافقي ته ورسېږي، او امریکایي «اشغال» ختم س
ي. په ۲۰۱۸ کې، واشنګټن لدې انتخاب سره مخامخ سو چې یا به د طالبانو سره مخامخ خبري کوي، او یا بهګرد
سره خبري نه کوي.
اوس، ویل کېږي چې دواړه طرفونه یوې موافقي ته نژدې سوي دي. او هغه دا چې امریکایي عسکر به وزي، طال
بان به وعده کوي چې په آینده حکومت کې، چې دوی به یې جز وي، بین المللي تروریستان به په وطن کې نه پرېږد
ي.ځیني نقادان اندېښمن دي چې متحده ایات د هیڅ په مقابل کې خپل عسکر راباسي، او د طالبانو پر داسي وعدو ب
اندي باور کوي چې عملي جنبه نه لري. خو د امریکایي مرکه چیانو په حواله دا موافقه به یوازې د طالبانو پر وعد
وباندې تکیه و نه کړي، بلکې د نظارت پر میکانیزم به هم ټینګار کوي. بهترینه سیاسي موافقه به دا وي چې افغان
ستان باثباته کړي، د تروریستانو مخه ونیسي، او یاغي سیمي بېرته د حکومت تر کنټرول لاندې راولي.

## د تاریخ خطر:

کېدای سي چې ټرمپ همدا موافقي ټولي و نه مني، او هر څه سرچپه کړي. له افغانستانه په خپل سر ټول عسکر یو
دم راوباسي، او پر افغان حکومت باندې مرستي بندي کړي. داسي یوه فیصله به د افغان حکومت د سقوط سرهمخا
مخ کړي، او د ویتنام خاطرې به بیا راژوندی کړي. هله په پاریس کې په ۱۹۷۳ یوه موافقه وسوه، او د هغې موافق
ې پر اساس باید امریکایي عسکر په ۶۰ ورځو کې له جنوبي ویتنام څخه پای پاکه راوتلي وای. پدې موافقي کې دا
ور بند او سیاسي مصالحي مادي موجودي وې، خو دا کار باید د امریکایي عسکرو تر راوتلو وروسته سوی وای.
هله متحده ایالات پدې و نه توانېدله چې خپل راوتل د شرایطو او حالاتو سره وتړي. که څه هم د جنوبي ویتنامحکو
مت دوه کاله دوام وکړ، خو کله چې د متحده ایالاتو کانګرس په ۱۹۷۵ کې پر ویتنام باندې نظامي او اقتصادي کوم
کونه بند کړل، د جنوبي ویتنام حکومت سقوط وکړ.
عین کار په افغانستان د شوروي د قواوو تر وتلو راوروسته وسو. د جینوا د ۱۹۸۸ د موافقي سره سم، د شوروي
عسکر باید د ۱۹۸۹ په فبروري کې له افغانستانه وتلی وای، او پاکستان او امریکا باید مجاهدینو ته خپلي مرستي په
۱۹۸۸ کې بندي کړي وای. خو پدې موافقي کې د سیاسي ورغي جوړي لپاره هیڅ ماده نه وه ځای پر ځای سوې.
کله چې د مرستو د ختمولو وخت راورسېد، امریکا او پاکستان وویل چې تر هغه وخته پورې به د مجاهدینو سره
کومک کوي، تر څو شوروي د کابل له حکومت سره خپل کومکونه بند نه کړي. شورویان د تقسیم اوقات سره سم
ووتل. په ۱۹۹۱ کې کله چې شوري د سقوط پر درشل ولاړه وه، امریکا او شوروي موافقه وکړه چې دواړې خواو
یبه مرستي بندوي. د کومکونو د بندولو سره سم، د نجیب حکومت نه پیسي لرلې او نه هم وسلې. نو لهذا، د ۱۹۹۲
په اپریل کې نجیب استعفا وکړه، او فرار یې وکړ. د ملګرو ملتونو د پلان سره سم باید یو موقتي حکومت جوړسوی
وای، خو په افغانستان کې دننه جنګیالیو لدې پروګرام سره هیڅ دلچسپي نه لرله، همدا وجه وه چې وطن داخلي ج
نګ ته ور ننوت.
کېدای سي چې عیني سیناریو یو کرت بیا تکرار سي. کېدای سي چې متحده ایالات خپل ټول نظامي او مالي کومکو
نه، البته پرته له یوې موافقي څخه، بند کړي. خو اصلي خبره دا ده چې د افغانستان د سولي او ثبات لپاره مذاکراتیو
ازنۍ لاره ده. ټرمپ باید خپلو مرکه چیانو او د افغان حکومت ته دونه وخت ورکړي چې یوې داسي موافقي ته سر
ه ورسېږي چې د امریکایي عسکرو د راایستلو مادې په کښې نغښتې وي، او هم په افغانستان کې د یوې سیاسيمص
الحي موافقه په کښې وي. دغه راز ټرمپ باید د افغان حکومت ته خپل کومکونه جاري وساتي، څو د کابل حکومت
پدې وتوانوي چې خپل دولتي چارې مخته بوزي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ